خبره
۴ مخ


مسیر
ورځپانه
www.maseerdaily.af
نوی لید، نوی مزل
سه شنبه د ۱۳۹۹ د مرغومې ۱۶مه | د ۲۰۲۱ د جنوري پنځمه | ۶۵۸مه گڼه

# واشنګټن کې ډیپلوماتیک ماموریت؛

## افغان سفارت د سفیرې رویا رحماني لپاره د ګټې وټې پر ځای بدل شوی







## هارولډ پینټر

هارولډ پینټر وایي، دا د لیکوال حق دی چې خلکو ته سم او ناسم وښیي. هغه وایي، حق د هنر په واسطه نبودل کېږي او دا هنر لیکوالي ده چې حق ښکاره کوي.

## کرنې ریاست: روان کال په هلمند کې د مېوو ۱۴۰۰ بڼونه جوړ شوي دي



د هلمند د کرنې او مالدارۍ ریاست وایي، چې روان کال یې په یاد ولایت کې د بڼوالۍ د پراختیا په پار بڼوالو ته ګڼ شمېر نوي بڼونه جوړ کړي دي.

د یاد ولایت د کرنې رییس زلمی الکو وایي، د کرنې وزارت د بڼوالۍ او مالدارۍ ملي پروژې په همکارۍ یې د مېوو ۱۴۰۰ جریبه نوي بڼونه جوړ کړي، چې په دغو بڼونو کې د انګورو، زردالو، الوچې، شفتالو، انار، انځر او نارنجو بڼونه شامل دي.

د دغو جوړو شویو بڼونو ترڅنګ بڼوالو ته روزنیز پروګرامونه جوړ شوي او د بڼوالۍ اړوند کرنیز توکي او کېمیاوي سرې هم وېشل شوي دي.

د هلمند د کرنې ریاست وایي، هڅه کوي چې په یاد ولایت کې په مسلکي ډول د مېوو بڼونه جوړ او بڼوالو ته د عملي او نظري زده کړو زمینې په برابرولو سره وکولای شي یاد ولایت د مېوو له پلوه ځان بسیاینې ته نږدې کړي.

## رئیس جمهور:

## در صلح هیچ معامله‌یی بر نیروهای افغان صورت نخواهدگرفت



رئیس جمهور غنی تأکید می ورزد که در مذاکرات صلح، هیچ معامله بر نیروهای امنیتی و دفاعی کشور صورت نخواهد گرفت.

رئیس جمهور می گوید که در شش سال گذشته، نیروهای امنیتی و دفاعی کشور، بیشترین قربانی را داده اند. آقای غنی دیروز در مراسمی در وزارت دفاع ملی، به لوی درستیز کشور، نشان غازی وزیر محمد اکبرخان را اعطاء نمود.

در این مراسم، صد تن از نظامیان دیگر کشور نیز نشان هایی را دریافت کردند و شماری هم به ترفیع دست یافتند.

در این مراسم، رئیس‌جمهور غنی با ستایش از کارنامه‌های نیروهای امنیتی و دفاعی کشور، این نیروها را افتخار کشور می‌داند.

آقای غنی گفت: «هیچ‌گونه معامله‌یی سر قوای امنیتی و دفاعی افغانستان، تا من و ملت افغانستان رمق داشته باشیم، صورت نمی گیرد! شما افتخار مردم افغانستان هستید!»

در همین حال، رئیس‌جمهور کارنامه‌های یاسین ضیاء لوی درستیز قوای مسلح کشور را می‌ستاید و نیز از اعطای نشان به صد نظامی دیگر کشور در این مراسم خبر می‌دهد.

رئیس جمهور غنی افزود: «از لوی درستیز صاحب افغانستان ابراز تشکری خاص است. مثل سرباز واری در صف اول جنگ، در شمال، جنوب، شرق یا غرب باشد، خودت می‌روی. امروز مدال غازی وزیر محمد اکبرخان برایت اعطاء می‌شود.»

رئیس‌جمهور می گوید که در شش‌سال اخیر، نیروهای کشور، بیشترین قربانی را از بهر تأمین امنیت داده‌اند. آقای غنی گفت: «امروز از برکت قربانی‌های قوای دفاعی و امنیتی افغانستان است که جهان از خطر تروریزم آرام است.»



## سرلیکنه

# که په پنځو میاشتو کې د سولې بین الافغاني هوکړه ونه شي؟

ټاکل شوې چې نن د افغان حکومت پلاوی دوحې ته روان شي او هلته بیا له طالبانو سره د سولې خبرې پیل کړي. اټکل دی چې دا ځل به خبرې بیا هم د تېر په شان سرې، له لانجو ډکې، اوږدې او بې خونده وي. پرمختګ به پکې کم وي او دا کم پرمختګ به هم د پراخ بهرني فشار په پایله کې رامنځ ته کېږي. دا ځل به ستونزه تر ډېره وخته زیاته وي، ځکه چې امریکایان د واک په لېږد بوخت دي او په دې وخت کې به سخت او ډېر فشار رانه وړي.

افغان حکومت او طالبان په داسې وخت کې بیا خبرې پیلوي چې د امریکا او طالبانو د هوکړې پر اساس د ټولو امریکایي ځواکونو وتلو ته پنځه میاشتې وخت پاتې دی. اوس مهمه او اساسي پوښتنه دا ده چې که په دې پنځو میاشتو کې بین الافغاني توافق ونه شي، څه پېښېدلی شي؟

دا وېره زیاته ده چې په پنځو میاشتو کې به بین الافغاني توافق ونه شي، ځکه چې د دواړو لورو تر منځ فاصلې زیاتې دي او سولې ته په نیتونو او ارادو کې هم ستونزه ده. له بله اړخه په امریکا کې نوی ولسمشر کار پیلوي او هغه تر افغانستان نور مهم مسایل په مخ کې لري. اوس که په همدې پنځو میاشتو کې توافق ونه شي، نو دوې شونتیاوې شته: لومړی دا چې که توافق ونه شي، امریکایان به هم خپل وتل وځنډوي او دویم دا چې امریکایان به ووځي، خو توافق به نه وي شوی.

که په همدې وخت کې توافق ونه شي او امریکایان هم ونه وځي، نو د دوحې تړون به مات شي او یو ځل بیا به جګړه زور واخلي چې پکې به طالبان پر امریکایانو هم برېته بریدونه پیل کړي. د دوحې له هوکړې د امریکا ځاني او مالي ګټو ته په پام سره داسې نه ښکاري چې امریکا به بیا جګړې ته زړه ښه کړي، نو ځکه د دې شونتیا کمه ده چې امریکایان دې ونه وځي او جګړه دې بېرته پیل شي.

خو که امریکایان ووځي او بین الافغاني توافق ونه شي، لویې او جدي ستونزې به جوړې شي. له یوه اړخه به جګړه لا زیات زور واخلي او له بله اړخه به د سولې خبرې زیاتې جنجالي شي، طالبان به د نظامي بریا په فکر کې شي، امریکایان به د سولې لپاره فشار کم کړي او د هند او ایران په ګډون د اشرف غني ځینې متحدین به د حکومت تر شا ودرېږي او په دې سره به افغانستان یوې بلې خونړۍ جګړې ته ولاړ شي، چې پکې به مړه او ژوبل دواړه افغانان وي.

دا وېره جدي ده او دواړو اړخونو ته پکار ده چې ورته پام وکړي. افغان حکومت او طالبان دواړه باید د امریکایانو تر بشپړو وتلو وړاندې یو توافق ته ورسېږي، ځکه چې له هغه وروسته به حالت لا زیات خراب شي. په دغه وخت کې توافق ته د رسېدو لپاره پکار ده چې دواړه اړخونه انعطاف وښيي، قرباني ورکړي، فزیکي او لفظي جګړه کمه کړي او آن ویې دروي. له دې پرته مور یوې بلې کورنۍ جګړې ته روان یو او د سولې دا چانس ضایع کېږي.

# قاسم سلیماني؛

## له ځار تر ترور، په افغانستان کې همکار او عراق کې سیال

بي‌بي‌سي پښتو

قاسم سلیماني ۲۲ کاله د ایران د قدس ځواک قوماندان و، خو یوازې د ژوند په وروستیو شاوخوا ۷ کلونو کې ایران او لوېدیځ کې پر رسنیزه څېره واوښت.

هغه یو وخت افغانستان کې امریکایانو ته پوځي نقشې ورکړې چې طالبان په نښه کړي او بیا یې د صدام حسین تر پرځېدو وروسته عراق کې له امریکایانو سره څه ناڅه همکاري وکړه، چې د دغه هېوا اوسنی حکومت واک ته ورسوي.

خو بالاخره له امریکا او متحدانو سره یې د هغه په مشرۍ د قدس ځواک د ټکر او مخامختیا کچه دومره لوړه شوه، چې دغه ایرانی جنرال د ۲۰۲۰ کال د جنورۍ د درېیمې په سهار وختي نیغ په نیغه د امریکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ په امر د بغداد هوایي ډګر کې د امریکا د بې پیلوټه الوتکو د برید ښکار شو.

ناپېژانده څېره

قاسم سلیماني ته تر هغې وروسته د لوېدیځو رسنیو ډېر پام ور واوښت، چې هغه او قدس ځواک یې د سوریې د ناارامیو په لړ کې د بشارالاسد د حکومت د وضعیت تر خرابېد وروسته د نوموړي مرستې او ساتنې ته وردانګي او ورځ تر بلې یې د دغه هېواد جګړه کې رول پیاوړی کېږي.

لوېدیځو رسنیو کې د سلیماني په اړه خپرو شویو مهمو مطالبو کې یو د نیویارکر مجلې د ۲۰۱۳ کال د سپټمبر د ۳۰مې ګڼې رپوټ دی.

که څه هم هغه مهال د انګلیسي ژبو رسنیو ډېرو کمو مخاطبو د سلیماني نوم اورېدلی و، خو امریکایي پوځیان او ډیپلوماتان لا له کلونو وړاندې د ایران پر سیمه ییز سیاست د نوموړي د رښتیني نفوذ پر اندازه پوهېدل او له هغه سره نیغ په نیغه اړیکه کې وو.

پټ قوماندان: «د ایران پوځي متفکر مغز» په نامه مستند فلم کې چې په ۲۰۱۹ کال له بي بي سي خپور شو، عراق کې د امریکا د پخواني سفیر رایان کراکر، عراق کې د امریکایي ځواکونو قوماندان جنرال ډېوېډ پېټرایوس او د امریکا د پوځ د ځانګړو عملیاتو قوماندان ارتور مککرېسټال د سلیماني په مشرۍ له ځواکونو سره د خپلو جګړو او مذاکرو په اړه غږېدلي دي.

د امریکا دغه جګپوړي پوځي قوماندانان او ډیپلوماتان قاسم سلیماني ته د «متفکر مغز»، «کاریزماتیک»، «مسلکي او کارنده»، «شریر او شیطان خویه» نومونه او اوصاف کاروي.

د ټرمپ د ادارې چارواکو او ځینو رسنیو د بغداد هوایي ډګر کې د سلیماني تر وژلو وروسته چې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو ځانګړي رپوټ ورکوونکي هم دا ګام غیرقانوني وباله، هڅه وکړه چې هغه د بن لادن د پوړ او کچې «ترهګر» وښیي.

په افغانستان کې له امریکا سره همکاري جګپوړی امریکایي ډیپلومات او عراق کې د دغه هېواد پخوانی سفیر رایان کراکر له لومړي لاس سرچینو دی، چې په دواړو رپوټونو کې ورته مراجعه شوې ده.

کراکر چې د سپټمبر د یوولسمې تر برید یوه اونۍ وروسته له ایراني ډیپلوماتانو سره د خبرو لپاره جینوا ته تللی، وایي ایراني استازو به نیغ په نیغه «حاجي قاسم» ته ځواب وایه.

د القاعده شبکې د سپټمبر بریدونو ایران او امریکا د طالبانو په نوم د ګډ دښمن پر وړاندې سره نږدې کړل. ایران کې واک ته د محمد خاتمي د سمونپاله حکومت رسېدو هم د دواړو هېوادونو تر منځ نږدېوالي ته لار هواره کړې وه.

سلیماني له ۱۹۹۸ کال راهیسې د قدس ځواک قوماندان و، خو تر هغې وړاندې یې هم د ایران ختیځو پولو ته څېرمه دنده تر سره کړې وه او له طالبانو سره پر جګړه بوختو جهادي ډلو سره یې اړیکې پاللې.

همدا د دې لامل شوی و چې د طالبانو او د دې ډلې د پوځي تحرکاتو په اړه د ده مالومات په پرتلیز ډول سم او کره وي.

تر دې ور هاخوا ایران او طالبان د ۱۹۹۸ کال د اوړي په موسم کې په مزار شریف کې د ایراني ډیپلوماتانو تر وژل کېدو وروسته د یوې هر اړخیزې جګړې تر درشله هم رسېدلي وو.

کراکر وایي، د خبرو اترو په لړ کې د ایران جګپوړی مرکچي پلاوی د طالب جنګیالیو د راټولېدو د ځای نقشه ورښیي او ورته وایي: «زموږ په اند ښه به دا وي چې لومړی دا ځای وولئ، بیا دا او بیا هغه. لامل یې هم شته».

کراکر پوښتي: ایا کولی شي چې د دغو اطلاعاتو یادښت واخلي او د ایران مرکچي ځواب ورکوي: «کولی شی همدا نقشه درسره واخلئ.»

امریکایان ځواب کې ایراني لوري ته مشهد کې د القاعده شبکې د یوه هملاري د پټنځي په اړه مالومات ورکوي.

ایرانی ډیپلومات کراکر ته وایي: «حاجي قاسم زموږ له همکاریو ډېر خوښ دی.»

د افغانستان په اړه د امریکا او ایران نږدې همکاریو چې د قدس ځواک او قاسم سلیماني د چینل له لارې کېدې، د طالبانو تر نسکورېدو وروسته هم څو میاشتې دوام درلود. خو د جورج بوش د ۲۰۰۲ کال د جنورۍ د ۲۹مې وینا چې په هغې کې یې ایران د عراق او شمالي کوریا تر څنګ د «شیطاني محور» برخه وباله، هر څه مخ او څټ کړل.

د بوش دا څرګندونې د امریکا د نورو جګپوړو ډیپلوماتانو په څېر رایان کراکر ته هم، چې هغه مهال کابل کې د امریکا د سفارت سرپرست و ، نابېره وې.

کراکر د نیویارکر مجلې خبریال ته وایي، د دې وینا په سبا کابل کې د ملګرو ملتونو دفتر کې له ایراني مرکچي سره مخامخ شو او هغه ورته وویل چې سلیماني له غوسې تاوېږي؛ ځکه دغه کار یې موقعیت له خطر سره مخ کړی دی.

هغه زیاته کړې وه چې سلیماني له ډېر دروند سیاسي خطر سره سره له امریکا سره په اړیکو کې پر بشپړ بدلون فکر کاوه.

کراکر وایي: «د وینا یوې کلمې، د تاریخ لوری بدل کړ.»

رایان کراکر د دواړو خواو تر منځ د لیدنو تر درېدو وړاندې د ایران له جګپوړي مرکچي سره آن پر عراق د امریکا د احتمالي برید په اړه هم غږېدلی او دغه هېواد کې یې هم د افغانستان په څېر د همکاریو وړاندیز ورمخ ته کړی دی.

ایرانی اړخ وایي، دوی د افغانستان په څېر د عراق په تړاو هم خبرو ته چمتو دي او ګواکې عراق هم د افغانستان په څېر د قاسم سلیماني د مسوولیت حوزه کې شاملېږي.

په عراق کې سیالي

د بوش د «شیطاني محور» تر وینا وروسته که څه هم مستقیمې همکارۍ پرې شوې، خو د ۲۰۰۳ کال پسرلي کې پر عراق د امریکا تر برید او د صدام حسین له پرځولو وروسته په لومړیو میاشتو کې د ایران او امریکا تر منځ د «عراق دولتي شورا» د جوړښت په اړه غیرمستقیمې همکارۍ دوام کوي.

رایان کراکر چې د دې شورا په جوړښت او رامنځته کېدو کې د مرستې لپاره عراق ته استول کېږي، د عراقي سیاستوالو له لارې چې د سلا مشورو پر سر تهران ته سفرونه کوي، په غیرمستقیم ډول له سلیماني سره د دې شورا د غړو د ټاکلو په اړه خبرې کوي.

کراکر وایي: «دا دولتي شورا د تهران او واشنګټن تر منځ د خبرو اترو په پایله کې جوړه شوه».

خو عراق کې کرار کرار د تاوتریخوالي ډېرېدو او د امریکا په مشرۍ د ائتلافي ځواکونو له کنټرول د وضعیت په وتلو سره دغه هېواد کې د ایران سیاست هم له مذاکرې مقابلې ته اوړي.

تر دې وروسته له امریکایانو سره د سلیماني او د هغه تر امر لاندې ځواکونو اړیکې تر ډېره کوچنیو تر پیغامونو محدودېږي، چې د عراق د کرد او شیعه سیاستوالو په وسیله یو بل ته استول کېږي.

خو عراق کې د قدس او امریکایي ځواکونو تر منځ د اړیکو تر ټولو مهم پړاو په ۲۰۰۴ کال کې تر هغې وروسته پیلېږي، چې عراق کې د سړک غاړو چاودونو لړۍ پراخه شوه.

دا چاودنې دومره ځواکمنې وې چې د امریکا زغره وال ګاډي هم ترې خوندي نه وو.

امریکایان وایي، عراق کې د ټولې ور اوښتې مرګ‌ژوبلې ۲۰ سلنه د سړک غاړو همدغو چاودنو ور اړولې او پړه یې هم د ایران پر قدس ځواک اچوي.

سټېنلي مککرېسټال چې هغه مهال د امریکا د ځانګړو ځواکونو قوماندان و، وایي: «په دې کې مو هېڅ شک نه درلود چې دا بمونه له کوم ځایه راځي. آن ایران کې مو یې د جوړېدو ځایونه هم پېژندل. دغو بمونو سلګونه امریکایي سرتیري ووژل.»

خو له دې ټولو سره سره عراق کې د امریکا او ایران اړیکې په بشپړ ډول پای ته نه وې رسېدلې، ځکه چې دواړو خواوو دغه هېواد کې د شیعه سیاستوالو په مشرۍ د رامنځ ته شوي حکومت ملاتړ کاوه.

د صدام د حکومت تر پرځولو وروسته لومړیو کلونو کې عراق کې د جنرال مک کرېسټال او د هغه د ځانګړو ځواکونو دنده دا وه چې د سني اورپکو ډلو پر وړاندې مبارزه وکړي او د امریکا د نورو پوځي قوماندانانو په څېر یې له ایران پلوه ځواکونو سره د نښتو او کړکېچ ډېرېدو ته لېوالتیا نه ښوده.

خو د ۲۰۰٦ کال په وروستیو کې د سامرا عسکرین حرم کې چې د شیعه ګانو لسم او یوولسم امام پکې ښخ دي، تر چاودنې او د مذهبي نښتو تر ډېرېدو وروسته دا چلند بدلېږي او جنرال مککرېسټال عراق کې ایران ته د نږدې او قدس ځواک پورې د تړلو وسله والو د ځپلو او نیولو لپاره یوه ځانګړې ضربتي قطعه جوړوي او په دې توګه قاسم سلیماني تر دې وروسته د امریکایي ځواکونو لپاره پر یو بالقوه هدف بدلېږي.

له ځار او تېښتې تر تروره

په دې موده کې څو پېښې قدس ځواک پورې د تړلو وسله‌والو او امریکایي ځواکونو تر منځ د نښتو د ډېرېدو لامل ګرځي.

لومړی د ۲۰۰٦ کال ډسمبر کې د امریکا د ځانګړو ځواکونو لخوا د عبدالعزیز حکیم کور کې د قدس ځواک د عملیاتي قوماندان محسن چیذري نیونه.

چیذري د عراق د وخت د لومړي وزیر نوري المالکي په غوښتنه خوشې کېږي او بېرته ایران ته ګرځي؛ خو د امریکا سفیر مالکي ته وایي، که بیا د قدس ځواک غړي ونیسي، نه خوشې کېږي.

یوه میاشت وروسته د قدس ځواک د څو جګپوړو مشرانو د موټرو کاروان له پولې عراق ته اوړي. امریکایي ځواکونه دا کاروان څاري او په دغه کاروان کې پر قاسم سلیماني سربېره هغه مهال د سپاه پاسداران د قوماندان عزیز جعفري د احتمالي حضور رپوټ تر لاسه کوي.

د مککرېسټال ځواکونه دا کاروان د ایران له پولې د عراق کردستان کې تر اربیل ښاره څاري. څنګه چې د دغه کاروان غړي د اربیل ښار یوه ودانۍ کې، چې د کونسلګرۍ نوم ورکړل شوی و، مېشتېږي او د نیول کېدو پرېکړه یې کېږي.

د امریکا ځانګړي ځواکونه اربیل ښار کې د ایران د کونسلګرۍ ودانۍ ته ننوځي او پنځه ایرانیان نیسي. د مککرېسټال په وینا، پنځه واړو ایرانیانو ډیپلوماتیک پاسپورتونه درلودل، خو د قدس ځواک غړي وو. جعفر او سلیماني هم دوی کې نه وو.

ظاهراً د ایران دغه دوه پوځي چارواکي لاره کې له کاروانه جلا او د مسعودي بارزاني اړوند یوه خوندي کور ته وړل شوي وو.

جنرال مککرېسټال او جنرال پېټرایوس وایي، د قدس ځواک د غړو تر نیول کېدو ۹ ورځې وروسته کربلا ښار کې ۵ تور او د اوږد شاسي موټرونه، چې چلوونکي یې انګلیسي خبرې کوي، پوځي جامو کې د امریکایي ځواکونو یوې اډې ته ننوځي، یو امریکایي سرتیری وژني او څلور نور ځان سره وړي، چې د هغوی مړي هم څو ساعته وروسته موندل کېږي.

دا عملیات عراق کې د مېشتو امریکایي ځواکونو او ایران پلوه ملېشو تر منځ د تقابل بل باب پرانیزي.

قاسم سلیماني کربلا کې د پنځو امریکایي سرتېرو تر وژل کېدو وروسته د عراق د وخت د ولسمشر جلال طالباني په وسیله دغه هېواد کې د امریکا سفیر ته پیغام استوي او وایي: «د خمیني په روح قسم چې ما پر امریکایانو د یوه ډز اجازه نه ده ورکړې».

خو امریکایانو پر دې پیغام باور نه کوي.

په ۲۰۰۸ کال امریکا کې واک ته د اوباما له رسېدو او په ۲۰۱۱ کال کې له عراقه د امریکایي ځواکونو له وتلو سره د لنډمهال لپاره له امریکایي ځواکونو سره د ایران د قدس ځواک او د ایران د ځایي متحدانو نښتې هم کمې شوې.

خو په ۲۰۱٦ کال کې سپینې ماڼۍ ته د ډونالډ ټرمپ له رسېدو او ایران سره له اټومي هوکړې تر وتلو وروسته د دواړو خواوو تقابل بېرته ډېر شو.

د سلیماني تر وژلو مخکې د نږدې یو کال موده کې یمن د نښتو، د سعودي عربستان د نفتو پر ارامکو تاسیساتو د برید، خلیج کې د تېلو لېږدونکو بېړیو کې د چاودنو او بغداد کې د امریکا پر سفارت د راکیټي بریدونه له کبله له قدس ځواک او د دغه ځواک له سیمه ییزو متحدانو سره د امریکا کړکیچ بیا اوج ته ورسېد.

خو په تهران او واشنګټن کې د سیاسي بهیر او واک ته د ټرمپ په رسېدو سره د سیمې په اړه د امریکا په سیاستونو کې له بدلون سره نور په خبرو اترو کې دوه اړخیزې ګټې نه وې نغښتې، نو دا ځل یې دې دښمنۍ ځواب په وژلو ورکړ.

# ښه زراعت د هېواد ټينګ بنسټ جوړوي



لیکنه: شي مونګ
ژباړه: زرينه - د چين ميډيا ګروپ د پښتو څانګې خبرياله

د چين د کمونيست ګوند مرکزي کمېټې د ۲۰۲۰ کال د ډسمبر له ۲۸مې تر ۲۹مې نېټې پورې په بېجينګ کې د دغه هېواد د زراعتي چارو په اړه يوه غونډه تر سره کړه. د چين رهبر شي جين پينګ په دغه غونډه کې اړوندو ادارو ته د بېوزلۍ د له منځه وړلو په برخه کې د حکومت د لاسته راوړنو د ساتلو او پراخولو، د کليوالو سيمو د هر اړخيزې احيا ستراتېژۍ د پلي کولو او د زراعت او کليوالو سيمو د عصري کېدو په ګډون، د بېلابېلو چارو لارښوونې وکړې.

چين زراعت ته ډېر اهميت ورکوي، يوه چيني اصطلاح ده چې وايي، زراعت د هېواد بنسټ دی، که بنسټ ټينګ وي، نو هېواد به ثابت پرمختګ ومومي.

چين يو زراعتي هېواد دی او چينايان له زمانو راهيسې بزګرو ته ځانګړې درناوی لري او زراعتي چارو ته په ډېره درنه سترګه ګوري. د چيني ملت په کلتور کې کرونده ډېر مهم ځای لري. چينايان له زرګونو کلونو راهيسې د کرکيلې د اغېزې په نتيجه کې د انسانانو او طبيعت تر منځ همغږۍ ته ډېره پاملرنه کوي او کار او سپما ښه سيرت بولي. بزګر، کليوالې سيمې او زراعتي چارې د خلکو له خوراک او څښاک سره مستقيمې اړيکې لري، که د خوراک او څښاک ستونزه هواره نه شي، نو ثبات او پرمختګ به نه وي.

د چين حکومت د بزګرو، کليوالو سيمو او زراعت چارې د خپل هېواد پرمختګ ته ډېرې مهمې بولي. چين ډېر پراخوالی او غني محصولات لري او د کروندو مساحت يې ۱۲۰ ميليونو هکټارو ته رسېږي، خو د نفوس شمېر يې هم يو ميليارد او ۴۰۰ ميليونو ته رسېدلی دی، نو د هر تن په سر د کروندې مساحت يې کم دی او د نړۍ تر منځنۍ کچې هم ټيټ دی. په تېره پېړۍ کې يو امريکايي کارپوه پوښتنه کړې وه، چې څوک چين روزي؟

اوس په چين کې ډېرې خلک پر زراعتي چارو لګيا دي او د چينايانو د هر تن پر سر د غلودانو او څو مهمو کرنيزو توليداتو اندازې د نړۍ له منځنۍ سويې سره برابرې دي او ځينې يې آن د نړۍ له منځنۍ سويې څخه هم پورته دي. دغه وضعيت ته په کتو، د ياد امريکايي کارپوه پوښتنې ته ځواب اسانه موندل کېږي. د چين زراعتي پرمختګ نه يوازې د چينايانو د خوراک او څښاک اړتياوې پوره کړې، بلکې د دغه هېواد د ټولنيز پرمختګ لپاره يې ټينګ اقتصادي ملاتړ هم برابر کړی دی او دغه برياليتوب د چينايانو د ډېر زيار ايستلو ښودنه کوي او په نړۍ کې يوه ښه نمونه هم بلل کېږي.

اوس په چين کې د بزګرو، کليوالو سيمو او زراعتي چارو پرمختګ نوي پړاو ته داخل شوی او حکومت د کليوالو سيمو د هر اړخيزې بيا سمسورتيا د ستراتېژۍ د پلي کولو په هڅه کې دی. د چين حکومت موخه درلوده، چې تر ۲۰۲۰ کال کال مخکې په خپل هېواد کې يوه نسبتاً شتمنه ټولنه اباده کړي او په دغه هېواد کې په بشپړه توګه بېوزلي له منځه يوسي. د چين ګوی جو ولايت د همدې کال د نومبر په ۲۳مه اعلان وکړ، چې وروستۍ ۹ بېوزلې ولسوالۍ يې له بېوزلۍ څخه ووتلې، چې په دې سره په دغه هېواد کې ۸۳۲ بېوزلو ولسواليو له بېوزلۍ سره مخه ښه وکړه.

د چين د دولت رييس شي جين پينګ په ياده غونډه کې په دې اړه، چې دولت په راتلونکې کې څنګه د هېواد زراعتي چارې پرمخ بوځي؟ وويل، که چيني ملت بيا سمسورتيا غواړي، نو هرومرو بايد کليوالې سيمې بيا سمسورې کړي او د دې لپاره اړتيا ده، چې په دغه هېواد کې د بېوزلۍ له منځه وړلو لاسته راوړنې ښې وساتل شي، د غلو دانو خونديتوب تضمين او د کليوالو سيمو د بيا سمسورولو چارې په ښه توګه تر سره شي.

په دغه غونډه کې د دغه هېواد د زراعت او کليوالو سيمو د عصري کېدو بهير د چټکتيا په اړه د حکومت يو سند هم وارزول شو او ښايي ژر تاييد او پلی شي. چينايان هيله‌من دي چې دغه سند په چين کې د بزګرو، کليوالو سيمو او زراعتي چارو پرمختګ ته نوره هم لاره هواره کړي.

افغانستان يو زراعتي او مالداريېز هېواد دی. د چين او افغانستان تر منځ د کرنيزو تخنيکونو د پرمختګ، د کرنيزو زېربناوو د جوړولو او د کرنيزو پيداوارو د تجارت په برخو کې د همکارۍ ډېر ظرفيت لري. ځينو چيني شرکتونو په افغانستان کې د زعفران د کرلو لپاره نوي تخنيکونه مروج کړي او ډېرې ښې لاسته راوړنې لري. د افغانستان ځانګړي کرنيز محصولات د چين او افغانستان تر منځ د هوايي دهليز او د مال وړونکو اورګاډو له لارې چين ته صادرېږي او ډېرو افغان تصديو په چين کې د وارداتو او صادراتو په نندارتون، نړيوال وارداتي نندارتون او د چين او جنوبي اسيا نندارتون کې ګډون کړی دی. د چين رهبر ډېر ځله ويلي، چې چين د افغانستان په ګډون د بېلابېلو هېوادونو هرکلی کوي، چې د دغه هېواد د پرمختګ "ګړندي موټر" ته ځانونه پورته کړي. هيله ده چې د چين او افغانستان تر منځ متقابلې ګټورې همکارۍ افغان بزګرو او د بېلابېلو ټولنو خلکو ته ډېرې رښتينې ګټې ورسوي.

# واشنګټن کې ډيپلوماتيک ماموريت؛

## افغان سفارت د سفيرې رويا رحماني لپاره د ګټې وټې پر ځای بدل شوی



په واشنګټن کې د افغانستان په سفارت کې يو ځل بيا د پراخ فساد او حيف ميل په اړه راپورونه خپاره شوي دي. تازه رسنيو ته په لاس ورغلو اسنادو کې راغلي چې په امريکا کې د افغانستان سفيره د سفارت له مالي سرچينو لوړ لګښتونه لري او د دغه سفارت لګښتونه تر کار او ګټو ډېر دي. رسنۍ وايي چې سفيره په ورځنۍ توګه ان تر ۱۷۰۰ ډالر ډېرې پيسې په دغه وزارت کې ګټي. د دې تر څنګ سرچينې وايي چې په دغه سفارت کې د سفير کمزوری مديريت او غير مسلکيتوب د اندېښنې وړ دی چې بايد حکومت يې په اړه اقدام وکړي.

تېر ميلادي کال په واشنګټن کې د افغانستان د سفارت د يوه ديوال جوړولو کې پراخ فساد او د نه باور لګښتونه د دې سبب شول، چې په رسنيو کې په ياد سفارت کې د فساد په اړه ډېر راپورونه خپاره شي. هغه مهال په واشنګټن کې د افغانستان د سفارت مسوولين په دې بريالي نه شول چې د خپلو لګښتونو په اړه رسنيو ته قانع کوونکی ځواب ووايي. د افغانستان د ملي شورا يو پلاوی هم د همدې راپورونو په تعقيب دغه سفارت ته ورغی، له کارونو يې کتنه وکړه او دا يې تاييد کړه چې د ديوال په پروژه کې پراخ فساد شوی دی. د سفارت د ديوال پروژه هغه مهال خورا مشهوره شوه او په ټولنيزو رسنيو کې د خلکو په مسخرو او ټوکو بدله شوه، خو افغان حکومت تر دې دمه هم په دې اړه خپل واضح دريځ نه دی لرلی.

اوس تازه په رسنيو کې داسې راپورونه خپاره شوي چې په واشنګټن کې د افغانستان په سفارت کې لوړ لګښتونه کېږي او داسې ادعا شوې چې سفيره رويا رحماني د سفارت له بوديجې او نورو مالي امکاناتو د شخصي کاروبار لپاره ګټه پورته کوي. سرچينه کاږي چې رويا رحماني د خپل کور ټول لګښت ان تر خپل شخصي لګښت او ارايش پورې ټول لګښتونه د سفارت له بوديجې اخلي او په دې حيف ميل کې نور کسان هم ورسره شريک دي.

د سفارت د لوړو لګښتونو په اړه رسنيو ته په لاس ورغلو اسنادو کې راځي چې رويا رحماني هره مياشت تر اتو زرو ډېره تنخوا اخلي. د تاند په نامه يوې وېبپاڼې ته يوې سرچينې بيا ويلي چې رويا رحماني هره ورځ تر ۱۷۵۰ ډالره پورې په دې سفارت کې ګټي. سرچينه کاږي: ((په امريکا کې د افغانستان سفيرې رويا رحماني ته د مياشتې ۷ زره او ۸۹۸ امريکايي ډالره تنخوا، ۸ زره او ۵۰۰ ډالر د کور کرايه او ۳ زره او ۷۵ ډالره د کور خدمتګارې لپاره چې تر ډېره د سفيرې د لور سرپرستي کوي، ورکول کېږي)).

يوازې دا لګښتونه نه دي، دغه وېبپاڼې ته سرچينې دا هم ويلي چې سفيره په واشنګټن کې شاهانه ژوند لري او لګښتونه يې تر لسګونو زرو ډالرو اوړي. د سرچينې په خبره: ((۵ زره او۲۰۰ ډالره يې دوو تنو موټرچلوونکو، ۱۸۰۰ ډالر يې د کور باغبان، ۸۷۰ ډالره يې د لامبو د حوض د پاک ساتلو، ۲ زره او ۱۱۶ ډالره يې روغتيايي بېمې او يو زر او ۲۳۳ ډالره د دسترخوان لګښت چې د رسمي بلنو لپاره ترې ګټه واخلي، خو سفيره يې په نقدي ډول تر لاسه کوي. د سفيرې د کور، برېښنا، انټرنېټ، ټليفون، خوراک، څښاک، لباس او آن د آرايش لګښتونه د سفارت له حسابونو څخه اجرا کېږي چې هره مياشت تر ۷ زرو ډالرو پورې رسېږي)).

د دې تر څنګ په واشنګټن کې د افغانستان سفارت له يوې کمپنۍ سره د اړيکو جوړولو لپاره يوه هوکړه لري چې بهرنيو چارو وزارت نه دی ترې خبر او سفارت دغه کمپنۍ ته بايد د مياشتې شل زره ډالر ورکړي. سرچينه همدا راز وايي چې امريکا بيا دغه سفارت ته د اړيکو جوړولو لپاره هره مياشت ۶۰ زره ډالر ورکوي چې دا دې سفيرې او څو نورو شاوخوا کسانو تر منځ يې وېشل کېږي. په دغه راپور کې راځي چې پورتنيو ټولو لګښتونو ته په پام رويا رحماني هره مياشت ۵۲ زره او ۷۳۵ ډالره چې په ورځنۍ توګه ۱۷۵۰ ډالره کېږي، په دې سفارت کې تر لاسه کوي.

دا لومړی ځل نه دی چې په دغه سفارت کې د پراخ فساد ادعا کېږي، بلکې تر دې وړاندې هم په دې اړه راپورونه خپاره شوي دي. بلخوا په دې حساسو شرايطو کې چې افغانستان له امريکا سره د باور او اړيکو جوړولو ته سخته اړتيا لري، داسې ادعا کېږي چې په دغه اداره کې مديريت او پاليسي خورا کمزورې ده او دوی د دې جوګه نه دي چې په دې حساس وخت کې کارنده پاليسي ولري. سرچينو رسنيو ته ويلي: ((د سفيرې مسلکي ضعف او مديريتي کمزورۍ په امريکا کې د افغانستان د پاليسۍ د ناکامۍ سبب شوي، حکومت ته پکار ده چې د نوموړې لپاره د دومره پراخو امتيازاتو پر کمښت اقدام وکړي)).

# په امريکا کې د واک پرسر د کړکېچ دوام؛

## پخواني دفاع وزيران: د واک د انتقال په چارو کې د پوځ مداخله به خطرناکې پايلې ولري

د امريکا لسو پخوانيو دفاع وزيرانو د ياد هېواد له دفاع وزارت څخه غوښتي چې د واک سوله‌ييز انتقال ته ژمن پاتې شي او خبرداری يې ورکړی، چې د واک د انتقال په چارو کې د پوځ مداخله به خطرناکه وي.

د ټرمپ د جمهوري رياست د دورې د دوو پخوانيو دفاع وزيرانو په شمول دغو وزيرانو دا خبره په يوه ليکلي بيان کې کړې ده.

دوی ويلي چې د واک سوله‌ييز انتقال د امريکا د ولسواکۍ يوه خاصه نښه ده او له اوسني سرپرست دفاع وزير کريسټوفر مېلر څخه‌يې غوښتي چې د ډونالډ ټرمپ له هغو هلو ځلو ځان لېرې وساتي، چې په واک کې د پاتې کېدو لپاره‌يې لري.

دا په داسې حال کې ده چې ټاکل شوې چې دوې اونۍ وروسته واک منتخب ولسمشر جو بايډن ته انتقال شي.

د ديک چيني، ډونالډ رمسفېلډ، جېمز مټېس او مارک اېسپر په شمول دغه لس پخواني دفاع وزيران وايي، د انتخاباتي اختلافاتو او کړکېچ په حل کې د وسله‌والو ځواکونو مداخله به خطرناک او جدي نتايج ولري.

دوی دغه راز زياتوي چې د واک د انتقال مرحله کېدای شي د هېواد د دښمنانو او سيالانو لپاره چې غواړي د ملي امنيت د بې‌اطمېنانۍ څخه ګټه واخلي، زيانمنوونکې او کمزورې وي.

پخوانيو دفاع وزيرانو ويلي چې اوس د دې وخت نه دی چې د تېرو انتخاباتو نتايج تر پوښتنې لاندې راوستل شي او په راتلونکو ورځو کې به دغه نتايج د نوي کانګرېس له‌خوا تاييد شي.

ټاکل شوې چې نوی کانګرېس به د سبا (چهارشنبې ورځې) په ګډه غونډه کې د امريکا د وروستيو انتخاباتو نتايج چې جو بايډن ګټلي، تاييد کړي.

سره له دې چې دغه اجراات تشريفاتي بڼه لري، خو دا ځل ځکه مهم دي چې د کانګرېس ځينو جمهوري پلوو غړو ويلي چې په دې غونډه کې به د جو بايډن بريا ونه‌نګوي.

دا په داسې حال کې ده چې د نوي منتخب ولسمشر په توګه د جو بايډن له اعلان سره سره، اوسني ولسمشر ټرمپ خپله ماتې نه ده منلې او په انتخاباتو کې د پراخې درغلۍ ادعا کوي، خو تر اوسه يې په دې تړاو کوم د قناعت وړ دليل نه دی وړاندې کړی.

هغه دلايل او اسناد چې د ټرمپ د مرستيالانو له‌خوا د انتخاباتي درغليو په اړه محاکمو ته وړاندې شوي، څو ځله رد شوي دي.


جمهوري غوښتونکو ويلي چې دوی د يوه خاص کمېسيون له‌خوا په لسو ورځو کې د ځينو ايالتونو د انتخاباتو د نتايجو د دقيقې او عاجلې بررسۍ غوښتنه کوي.

## د کتـــاب خبـــرې

# د جاسوسی پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ ليکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتيا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### درېيمه برخه
### کشمير




کله هم باید و نه وایاست چې بس هر څه ختم شول، وسله هغه ده چې په لاس درغله. ختم، چې څه در رسېږي، وا يې خله، خپل موقف پیاوړی کړه، څه موده چې تېره شوه، شپږ کاله، اته کاله، لس کاله وروسته بېرته راشه او خپله برخه وغواړه. خو د کډوالو د بېرته ستنېدو خبره به څنګه کېږي؟

د کشمير په قضيه کې به دا په دې پورې تړاو ولري چې تاسې پر حل لاره څنګه بحث کوئ؟

دولت: کيسه داسې ده چې په ۱۹۷۵ کال کې چې شيخ صېب له افضل سره تر لاس يو کولو وړاندې فاروق عبدالله پاکستان ته ولېږه، ډاکټر فاروق په پاکستان کې له «ذوالفقار علي بوټو» سره وکتل. اوازه دا ده چې هغه ورته ويلي: «اوس زموږ له وسه هېڅ هم پوره نه دي، موږ له تاسې سره هېڅ مرسته نه شو کولای؛ نو چې څه در رسېږي، په اخيستلو کې يې ناغېږي مه کوه. که په کشمير کې درته د سولې او واک وړانديز شوی وي، پر سر سترګو يې ومنئ».

په کشمير کې هم يوه خبره مشهوره وه چې ګواکې امريکايانو «ياسين ملک» ته مشوره ورکړې وه چې له ډيلي سره کار پيل کړي.ياسين ورته ويلي وو چې ډيلی منطقي چلند نه کوي. د هغوی سپارښتنه دا وه چې څه په لاس ورځي بايد وا يې خلي. دوی ورته پسې زياته کړې وه :«دا وروستۍ فيصله نه ده، خو که يې څه در ته وړاندې کړل نو وا يې خله.» «چې څه در رسېږي، پرې شکر وباسه، دا ډېره ښه ده.» دا هغه څه دي چې ډاکټر فاروق عبدالله يې بيا بيا تبليغوي. په کشمير کې هېڅ هم نه شي بدلولی. څه چې د دوی دي، هغه د دوی دي او څه چې زموږ دي، هغه زموږ دي. له دعوو او دنګلو هېڅ هم نه جوړېږي. موږ بايد په صفري کرښه کې مېښت شو. دا کار له بېلابېلو لارو کېدای شي، فاروق چې يې څنګه (بې باکه او عصبي) وايي، نو دغسې نه ده، دا د مشرف د څلورو پړاونو د فورمول مهمه برخه هم وه: د صفري کرښې زياتول. صفري کرښه ښه خبره ښکارېده، له دې سره دواړې خواوې ګټونکې وې، يوې غاړې هم نه بايلله. وړاندې تګ له همدې ځايه پيلېږي.

پاکستان له خدايه دغسې حالت غواړي، دوی د کشمير پر حالت خوښ دي. د ډيلي له انده بيا په کشمير کې هېڅ ستونزه نشته.

دوراني: بوټو ورته ډېر ښه نصيحت کړی. نه پوهېږم دغسې خبرې ولې له پامه لوېږي، موږ يا نه کړو يا د خره کړو؟ يوازينۍ حل‌لاره دا ده چې موږ يا بايد ټول ومنو يا يې له يوې مخې رد کړو؟ که موږ يا نه کړو يا يې د خره کړو، نو هېڅ هم لاسته نه راځي. څوک چې دا خبره کوي چې يا يې مکمل ومنه يا يې له بېخه رد کړه، نو له دې يې اعصاب هم معلومېږي. لکه بوټو چې ويلي وو: «څه چې په لاس درځي، شکر پرې وباسه.»

### څلورمه برخه
### کابوکي

په دې اوو څپرکيو کې خپله د پاکستان او هند د اړيکو پر مهمو مسايلو بحث کېږي. همدارنګه پر هغو څېرو هم بحث کېږي چې دې اړيکو ته يې يو تعريف ورکړی دی. په دوی کې يوازې مشرف او د هغه نور هېوادوال سياستوال نه راځي، بلکې پخپله پر لومړي وزير «نرېندرا مودي» او «اجيت ډوال» هم بحث کېږي. پاکستانيان د دواړو په تړاو ډېر فکر کوي؛ د هند د حکومت پر داسې برخه چې پاکستانيان يې تر ګردو ډېره سياله بولي (پاکستانيان يې پر خلاف د زور کارولو پلويان دي، د دې پر ځای چې مذاکرات ورسره وکړي او يا له نورو سوله ييزو لارو ورسره تعامل وکړي). مبادا موږ هېر کړي دي، زموږ هېوادونو په تاريخ کې له يو بل سره مثبت کارونه هم کړي دي.

د صحنې انځورول

کټمندو، د ۲۰۱۷ کال د مارچ ۲٦مه ورځ مو د هوټل په له شوره ډکه لابي کې تېره کړه. که څه هم موږ په څنډه کې ناست وو، خو بيا هم شور او ځوږ تر موږ ځان را رساوه، هوټل ته مېلمانه تله راتله، کړپ کړوپ يې زموږ پر غوږونو ننووت. د غرمنۍ لپاره بهر، «تهامېل» (Thamel) ته لاړو. خو د نيپال د پايتخت د لرو، د ښار د لوګيو او د دوه کاله وړاندې زلزلې دوړې لا ناستې نه وې، دې ټولو سره لاس يو کړی و، لار ترې نه معلومېده، موږ ته پته نه لګېده چې موږ پر کومه خوا روان يو؟ **دوام لري...**

# هارولډ پينټر

شفيق اميرزی



هارولډ پينټر برېتانوی ليکوال دی چې د جګړې له ډګره راوتلی دی او د نوبل تر جايزې پورې يې ځان رسولی دی. مور او پلار يې يهود ضد خلک وو، نو ځکه د دويمې نړيوالې جګړې پر مهال سخت وځپل شول. دی د دويمې نړيوالې جګړې پر مهال په لندن کې و، خو د يهودو ضد چلند يې پر فکر او ژوند خورا ژور اغېز پرېښود او بيا په لندن کې د شديدو جګړو له امله وتلو ته اړ شو. دی لا ماشوم و چې دا کشمکشونه يې په ژوند کې رامنځ ته شول، خو کلونه تېر شول او هارولډ تکړه ليکوال شو، ننداړې يې وليکلې، ناولونه يې وليکل، مشهور شو او د نوبل جايزې ګټونکی وبلل شو. هغه په ۲۰۰۵ کال کې د نوبل جايزه وګټله او له دې وروسته يې شهرت څو برابره شو. د نوبل د ګټلو پر مهال پر سرطان اخته و او په ۲۰۰۸ کال کې د همدې ناروغۍ له امله ومړ.

هارولډ پينټر له يهودي مور او پلار يوازينی اولاد دی. ورور او خور يې نه لرل. د ۱۹۳۰ کال په اکتوبر کې د لندن په شمال کې په هاکني نومې سيمه کې زيږېدلی دی. پلار يې درزي يا خياط و. مخکې مو هم يادونه وکړه چې دی په داسې يوه فضا کې رالوی شو چې ټوله يهود ضد وه. د يهودو ضد افکار په ټول لندن کې خپاره وو. دې هر څه يې پر ژوند او ننداړو اغېز درلود. د دويمې نړيوالې جګړې پر مهال دی نهه کلن و چې د لندن پرېښودو ته اړ شو. په دوولس کلنۍ کې بېرته لندن ته راستون شو. پينټر به ويل چې د جګړو ترخې تجربې يې هېڅ وخت نه دي هېرې کړې، په تېره د بمباريو او درنو بمونو د غوږځولو صحنو يې تل ژوند تريخ کړی و او دردناک انځورونه يې په ذهن کې لېږدول. په لندن کې يې په هاکني ښوونځي کې لومړنۍ زده کړې پيل کړې او دلته د ګرامر او ژبې يوه ښوونځي ته لاړ. په دې ښوونځي کې له داسې ښوونکو او زده کوونکو سره مخامخ شو چې غوره افکار يې لرل او د ده په ژوند کې يې خورا مثبت تاثير درلود. ده په خپله بيا وروسته په خپلو خبرو کې ويلي وو، چې په دې ښوونځي کې د عقلي او فکري ودې زمينه ورته برابره شوه. ښوونکي يوه څه د ناندريو شوقيان هم وو، خو تر څنګ يې د فاشيزم او تعصب ضد هم وو. نقادان په دې باور دي چې د لندن د فاشيزم هغه مهالې فضا او په دغه ښار کې د يهوديانو او ځينو نورو لږکيو ضد افکار او وضعيت د پينټر په اثارو کې خپل اغېز پرې ايښی دی.

په ښوونځي کې به يې ننداړې تر سره کېدې. دی هم ورو ورو د ننداړو او ډرامو مينه‌وال شو. يوه ورځ يې په ښوونځي کې د ژوزف برلي په لارښوونه د مکبث د يوې ډرامې تمثيل روان و. د روميو رول په دې ډرامه کې هغه ځان ته راکاږه او له همدې وروسته يې له ننداړو او ډرامو سره مينه ډېره شوه. همدا چې په ۱۹۴۸کال کې يې ښوونځی بشپړ کړ، نو د برېتانيا د هنرونو په سلطني اکاډمۍ يا (Royal Academy of Dramatic Art) کې د نمايشي هنرونو په زده کړه يې پيل وکړ. خو دلته يې زده کړې په زړه نه وې. ترې ناراضه و چې په همدې سبب يې تر دوو دورو زده کړو وروسته دا اکاډمي پرېښوده.

په ۱۹۵۰کال کې يې خپل لومړني شعرونه خپاره کړل. هغه مهال يې شعرونه مشهور شول، خلکو به ويل چې د شکسپير په سبک يې ويلي دي او هغه ته ورته والی لري. وروسته يې له ۱۹۵۱ کال تر ۱۹۵۷ کال پورې د سلطني تياتر په سفرونو کې له دوی سره ملګرتيا کوله او ډول ډول نقشونه به يې تر سره کول چې تر ډېره يې د شکسپير رول ادا کاوه. دی به تر ډېره په تاريخي رول کې راڅرګندېده. په دې کلونو کې يې د ډيوېډ بارون په نامه په ډرامو کې برخه اخيسته. له دې ټولو سره د پينټر شهرت ډېر شوی و، خو هغه وخت يې ځان د يوه تکړه ليکوال په توګه ثابت کړ چې په ۱۹۵۷ کال کې يې د (کوټې) په نامه ډرامه وليکله. دا ننداره يې بريستول پوهنتون خپره کړه او له خورا تاوده هرکلي سره مخ شوه. له دې وروسته پينټر نه يوازې يو شاعر او د ننداړو لوبغاړی و، بلکې يو تکړه ليکوال هم و. د دې په دوام يې په ۱۹۵۸ کال کې په لندن کې لومړنۍ ډرامه هم پر ستيج ننداړې ته وړاندې شوه. دا ننداره په ليريک تياتر کې ننداړې ته وړاندې شوې وه، خو دا چې ځينې افسانوي اړخونه يې لرل، له ماتې سره مخ شوه او يوازې يوه اونۍ يې خلک کتلو ته ورغلل.

هارولډ پينټر عادي ليکوالي نه کوله چې يوازې ننداړې ته راغلي خلک خوند ترې واخلي او ولاړ شي، هغه د تياتر لپاره په اکاډميکه توګه ليکل کول او ننداړې يې له پيغامونو ډکې وې. د هنرونو او ليکوالۍ په برخه کې متخصيصن او څېړونکي وايي چې پينټر د شلمې پېړۍ په دويمه نيمايي کې د لندن د تياتر استازی دی. دی تر بل هر ننداره ليکونکي ډېر د اکاډميکو ادبي او هنري بحثونو لپاره ښه موضوع و. همدا راز يې اثار هم هغه څه دي چې څېړونکي يې پر ځان بوخت کړي دي. د ننداړو ليکوال په دې باور دي چې هغه په تياتر او ننداړو کې د يوه نوي سبک بنسټګر دی. دوی دې سبک ته ځوروونکې کمېډي يا (The Comedy of Menace)) وايي. په دې سبک کې ليکوال هڅه کوي چې د کرکټرونو رواني او داخلي اړخ انځور کړي. هغه په دې توګه هڅه کوي چې په ننداره کې خلاوې يا په خپلو کيسو کې خلاوې د کرکټرونو تر منځ د خبرو له لارې ډکې کړي. په دې توګه دوی ته زمينه برابروي چې خپلې وېرې تجسم کړي. خپل احساس بيان کړي. ان خپل پټ تمايلات روښانه کړي. په دې سبک کې ليکوال دا ثابتوي چې هغه ان په ډېرو وړو خبرو کې هم غواړي بحثونه پيدا کړي او همدا راز داسې مسايل بيان کړي چې هغه ته د چا هډو پام هم نه وي.

هغه تر شکسپير وروسته په نړۍ کې تر ټولو ستر او مشهور ننداره ليکوال بلل شوی دی. هغه د يوې نوي کمېډي پيل دی. د يوه نوي سبک پيل دی. داسې يوه کميډي چې ان تر ټولو بدې پېښې هم پټې نه کړي، پر صحنه يې راولي او پرته له دې چې ليدونکی يې له ليدلو ستړی شي، کرکه ترې وکړي، بلکې کمېډيوالی يې خوښ شي او ستاينه يې کوي. د دې ډول کمېډيو ليکلو ليکوال ته دا وړتيا ورکړه چې د يوې پېښې تر شا ټولې پټې او ښکاره کيسې را وسپړي، ټول احساسات بيان کړي، ازاد وي، پر ليدونکي اغېز ولري او په دې توګه څومره يې چې وس رسېږي، د ننداړو پېښې عيني او محسوسې کړي. بل هنر يې دا و چې له دې پېښو يې په استفادې د کمېډي زهرجنه برخه ختموله، هغه برخه يې پټوله يا يې خبره داسې په پرده کې وړاندې کوله، چې ليدونکی يې نه ځوراوه. همدا هنر و چې هارولډ پينټر استفاده ترې وکړه او ځان يې د شلمې پېړۍ د مشهورو ليکوالانو په کتار کې راوست. پينټر تل پر خپل سبک درېدل هم نه دي خوښ کړي، بلکې کله کله يې خپل سبک بدل کړی دی او نورې لارې يې ازمويلې دي.

پينټر چې کله د نوبل جايزه ګټې، نو ځينې ستونزې هم ورته پيدا کېږي. د نوبل جايزه ورته د سر په درد تمامه شي. له يوې خوا يې روغتيايي وضعيت هم ښه نه وي، ځکه له ۲۰۰۲ کال راهيسې پر سرطان اخته وي. د سرطان ناروغۍ يې په ټول بدن کې رېښې ځغلولې وي، خو له دې سره سره بريالی شو چې د نوبل ګټونکی شي. هغه د نوبل د ګټلو پر مهال پر سرطان اخته و او د نوبل اکاډمۍ ته د جايزې اخيستلو لپاره حاضر نه شوی شوای، خو په مقابل کې يې يو اوږد ويډيويي پيغام د نوبل اکاډمۍ ته لېږلی و. هغه مهال چې په ۲۰۰۵ کال کې پينټر د نوبل جايزه وګټله، نو ټولو نقادانو ويل چې دا يوه سياسي پرېکړه ده. د ادبياتو د برخې ليکوالانو د نوبل پر بنسټ نيوکه وکړه چې ګواکې د سياسي ملحوظاتو او اړيکو پر بنسټ غواړي پينټر ته د نوبل جايزه ورکړي، خو له دې نيوکو سره سره دغه بنسټ نوموړی د نوبل ګټونکی اعلان کړ، دا جايزه يې ورکړه او په دې توګه نو پينټر د نړۍ د پياوړو ليکوالانو په کتار کې چې د نوبل جايزه يې ګټلې وه، ودرېد.

پينټر هم په فکري لحاظ او هم په خپلو ليکنو کې د جګړو او تېريو مخالف و. هغه د شلمې او يوويشتمې پېړۍ له حاکمو سياسي جريانونو سره په کشمکش کې و. د نوبل کمېټې ته يې د خبرو پر مهال وويل، چې د سم او ناسم شي توپير کول اسانه خبره نه ده. د ده په خبره، دا يې دنده نه ده چې ووايي سم څه دي او ناسم څه دي. کېدای شي يو څه يوه ته سم خو بل ته ناسم وي. همداسې يو څه کېدای شي هم سم وي او هم غلط. د پينټر په خبره، دی باوري دی چې لا هم واقعيتونه د هنر په مرسته کشف کېږي. لا هم هنر دی چې سم، سم او ناسم ناسم درته ښيي.

هغه وايي، دا نه وايي چې سم څه او ناسم څه دي؛ خو د يوه انسان په توګه د دې پوښتنه کوي چې ستاسې په نظر سم څه دي؟ دی د امريکا د جګړو په مقابل کې وايي، بايد امريکا څومره نور انسانان ووژني چې موږ يې قاتل وبولو؟ امريکايي چارواکي د کوم سم دليل لپاره په عراق او نورو هېوادونو کې انسانان وژني؟ دا زما حق دی چې پوښتنه وکړم. امريکا ملتونو ته ربړې وروړي، جزا ورکوي، بم ور وړي، وژل ور وړي، خو دليل ورته نه لري. له دې سره دا ادعا کوي چې د منځني ختيځ هېوادونو ته يې ولسواکي او ازادي ور وړې ده. دا د ليکوال دنده ده چې سم او ناسم وښيي. بشريت ته دا واضح کړي چې د دې انځور تر شا کوم تياره اړخونه دي.

د دې ټول تر څنګ يې تل په اثارو کې هڅه کړې ده چې د بشري ټولنو ناخوالې وغندي. لسګونه ننداړې يې ليکلې دي او هره يوه د يوه پياوړي اثر ارزښت لري. پر ده دا نقد کېږي چې هغه د اصالت پالنې پيرو ليکوال دی. لامل يې ښايي دا وي چې په برېتانيا کې د ده د ماشومتوب او تنکۍ ځوانۍ پر مهال حاکمه فضا له انساني چلند لرې وه. وژل وو، بمونه وو او د اقليتونو ختمول وو. پينټر کلونه وروسته هم په خپلو خبرو کې ويل، لا يې د هغو خلکو غږونه په غوږ کې دي چې تر بمونو لاندې به پيت شول. برباد به شول او وبه سوځېدل. همدې ښايي ژوند ورته بې مانا کړی وي او په اثارو کې يې د اصالت پالنې فکر پالل شوی وي. ده شاعري هم کړې ده، خو تر شاعرۍ د کميډي په ليکلو کې مشهور دی. د برېتانيا دغه مهم ليکوال او ډرامه ليکونکی له کلونو ليکلو او هڅو وروسته په ۲۰۰۸ کال کې ومړ. مخکې مو يادونه وکړه چې هغه په ۲۰۰۲ کال کې پر سرطان اخته شو، خو د ۲۰۰۸ کال د سپټمبر په څلورويشتمه په برېتانيا کې ومړ. دا مهال يې د نوبل د ګټلو درې کاله اوښتې وو.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۱۵ |
| € | ۹۳,۸ |
| Rp. | ۴۸۰ |
| ₹ | ۱۰۴۵ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۳,۵ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیايي مرکز
166

همیانی

# یو بوټی گل او نړۍ

فهیم لمر

په دې پوهېږې چې یو بوټی گل کولی شي ستاسو ژوند او نړۍ ته بدلون ورکړي؟ تاسو به فکر هم نه وي کړی، چې د یوه بوټي گل پالنه څومره شیان ستاسو په ژوند کې پنځوي او له ډېرو بدلونونو سره به مو مخ کړي. له تاسو څخه یو بامسوولیته انسان جوړوي، د پنځونې د فکري لید خاوند به شې، یو ښه مدیر به وی، له اروايي اړخه مو هم تر اغېز لاندې راولي او بالاخره د نورو د هڅونې لامل او الگو به وی. د تجارتي تگلارو د پنځونې خاوند به شی او تر ټولو مهمه خبره دا ده چې طبیعت به هم ستاسو له مثبتې اغېزې بې برخې نه وي. په دې مقاله کې موږ د هغو مهمو ټکو یادونه کړې ده، چې موږ یې د یو بوټي گل په ساتلو یا روزلو سره تر لاسه کولی شو.

حقوق

کله چې موږ تصمیم نیسو، چې د یوه بوټي گل پالنه وکړو، په حقیقت کې موږ یوه حقوقي رابطه یا اړیکه منځته راوړو، لکه څرنگه چې هره حقوقي اړیکه یا قرارداد ځینې حقوق او وجایب منځته راوړي، همداسې باید د یوه گل د روزلو لپاره موږ باید خپل گل ته په وخت اوبه ورکړو، د گل لپاره ضروري مدني مواد چمتو کړو، د ضرورت په وخت یې خاوره بدله کړو او په مقابل کې تمه ولرو چې گل مو ښه وده وکړي، څو زموږ د استوگنې ځای ته ښکلا وروبښي او ساحه معطره کړي. دا خپله دې یوې مستقیمې حقوقي اړیکې ښکارندويي کوي، چې د ځینو حقوقو او وجایبو پنځونه منځ ته راوړي. کله چې د یوه ضرورت پر اساس موږ د خپل گل پالنه د یوې مودې لپاره د کورنۍ یوه بل غړي او یا خپل یوه دوست ته ورسپارو، موږ یوه بله غیر مستقیمه رابطه جوړه کړه. نو د یو گل روزنه او پالنه په عملي بڼه حقوقي پاردایم زموږ په ژوند کې لوبوي. په دې برخه کې د یوه گل روزنه تر ټولو ښه تمرین دی او دا کولای شي زموږ په ژوند کې د یوې حقوقي مسئلې د ښه پر مخ وړلو لپاره ښه تمام شي.

مدیریت

په ژوند کې چې د هر کار مسوولیت موږ پر غاړه اخلو، نو تمه لرو چې پایله یې ښه وي. که داسې نه وي، موږ دې ته اړ باسي څو خپله تگلاره بدله کړو. لکه څرنگه چې مدیریت په بېلابېلو تگلارو د اجزاوو هدایت کول د هدف پر لور دي او مدیریت د علم تر څنگ پر هنر یا مهارت ډېر متکي دی، نو کله چې موږ د یوه بوټي گل مسوولیت پر غاړه اخلو او پالنه یې کوو، کله چې مطلوبه پایله پکې احساس نه کړو، موږ اړ باسي چې په خپله تگلاره کې ځینې بدلونونه ومنو څو هدف ته ورسېږو. دا د دې لامل کېږي چې موږ له نویو تگلارو او میتودونو سره بلد شو او په عملي بڼه د یوه مدیر نقش ولوبوو او د ژوند په نورو چارو کې هم له ورته تگلارې څخه گټه پورته کړو. نو د یوه بوټي گل پالنه له موږ څخه یو ښه مدیر جوړولی شي.

خلاقیت او پنځونه

خلاقیت او پنځونه زموږ په ژوند کې دوه ډېر اساسي فکټورونه دي او تر ډېره هغه انسانان چې دغه دوه فکټورونه په بېلابېلو برخو کې کاروي، گټه هم ترې پورته کوي او هغه ده چې بیا په ټولو چارو کې بریالي هم دي. خلاقیت او د پنځونې استعداد په وگړو کې توپیر لري. په ځینو کې ښه او په ځینو کې بیا ښه نه وي. هغه انسانان چې په پنځ مین دي او د هغه د خلقت په هکله فکر کوي، د خلاقیت او پنځونې استعداد یې ښه وده کړې؛ ځکه د طبیعت خلقت ډېر ښکلی او له ظرافتونو څخه ډک دی. گل خپله د پنځ له جوړښتونو څخه دی او د ډېرو ښکلو رنگونو، جوړښتونو او ظرافتونو درلودونکی دی. کله چې تاسو دې ته چمتو کېږئ چې د یوه گل روزنه وکړئ، هغه ده چې تاسې د هغه په اړه د معلوماتو راټولولو او ځان پوهولو لپاره هم هڅې کوئ او په دې ډول سره ستاسې پوه او خلاقیت زیاتېږي او بالاخره ستاسو اړیکه د طبیعت له جوړښتونو سره پیاوړې کېږي. دا اړیکه به تاسو پر یوه ښه پنځگر بدل کړي.

اروايي اړخ

که تاسو پر اروايي ناروغۍ اخته شوي وئ او یا کوم دوست، د کورنۍ غړی مو له دې ناروغۍ سره لاس او گریوان وي، نو کله چې تاسو د اروايي ناروغیو له رنځورپوه سره ووینئ، خامخا به یې تاسو ته یو وړاندیز دا وي چې له طبیعت سره خپله اړیکه پیاوړې کړئ او د طبیعت ښایسته جوړښتونو ته گورئ او څومره مو چې له وسه کېږي، ځان مصروف وساتئ. نو د یوه بوټي گل روزنه تاسو مصروف ساتي، له بې مورده سوچونو څخه مو ژغوري او د گلانو ښایسته جوړښت مو ذهن نه پرېږدي چې د منفي شیزونو په هکله فکر وکړئ. دا کار مو اروايي اړخ پیاوړی کوي او له اروايي ناروغیو څخه مو ژغوري. د انسان په بدن کې د هغو هورمونونو د افراز د کمښت لامل گرځي چې ډار او خپگان رامنځ ته کوي او بلعکس ستاسې په وجود کې مثبته انرژي افرازوي.

طبیعت

طبیعت بشریت ته د خدای لویه ډالۍ او پیرزوینه ده او انسانان باید د هغه په قدر پوه شي، خو له بدمرغه د نوي عصر نزاکتونو نه دا چې له طبیعت څخه یې ساتنه نه ده کړې، د هغو د ککړتیا او له منځه تلو لوی لامل شوي. د هوا ککړتیا، د شنو ساحو له منځه تلل او د ځمکې د گرمېدو کچې لوړېدل دا ټول هغه مسایل دي چې دا ادعا ثبوتولی شي. نو که تاسو د بوټو روزنې ته پراختیا ورکړئ او گلان وساتئ، دا به د دې لامل شي چې ستاسو مینه به له طبیعت سره ډېره شي او د طبیعت د ساتلو او ښکلي کولو لپاره به عملي گامونه اوچت کړئ. دا مهمه نه ده چې تاسو د طبیعت له څنډو څخه څومره برخې ته ښکلا وربښلی شئ. په همدې ډول که تاسو په دې برخه کې ښه وځلېدئ، ډېر نور به له تاسو څخه تقلید وکړي او تاسو به خپل الگو ونیسي.

تجارت

شاید تاسو ته دا عجیبه ښکاره شي، چې د یوه بوټي گل ساتنه له تجارت سره څه اړیکه لري؟ د انسان ذهني جوړښت په دې ډول دی چې ښکلي شیان خوښوي او د ښکلو شیزونو د جذب قوه تر ډېره پرې تاثیر کوي او غواړي هغه خپل کړي. نو که تاسو د یوه بوټي گل د ساتلو هوډ وکړئ، دا د دې لامل کېږي چې د وخت په تېرېدو سره تاسو د گلانو په روزنه کې ښه مهارت تر لاسه کړئ او د گلانو د تکثیر او ډېرېدو له مختلفو تگلارو سره بلد شئ. په همدې ډول د گلانو بېلابېل رنگونه پیدا او وې روزئ چې د گلانو په ډېرېدو سره تاسو کولی شئ د گلانو پېر او پلور شروع کړئ، د انټرنېټ او ټولنیزو رسنیو په مرسته کولی شئ پېرودونکي پیدا کړئ، خپل شخصي بزنس به ولرئ او د گلانو په یوه ښه کاروباري به بدل شي. هغه ده چې له دې لارې به تاسې د یوه ښه تجارت په چلول پوه شئ او بیا کې په راتلونکي کې کوم تجارت کوئ، مخکې له مخکې به تاسې یوه ښه تجربه ورته لرئ.

## وکیلان: د حکومت او طالبانو د گټو جگړې تر ډېره عام افغانان زیانمن کړي

د ولسي‌جرگې غړي وایي، د حکومت او طالبانو ترمنځ په روان کشمکش کې ملت تر پښو لاندې شوی دی.

وکیلان وایي، د ولسمشر غني حکومت او شاوخوا کسان یې په فساد کې ښکېل دي، چې ولس ورته اهمیت نه لري او طالبانو بیا د امتیاز اخیستلو لپاره جگړه شدیده کړې ده. د ولسي‌جرگې غړی شیرمحمد اخوندزاده همدا راز وایي چې د اوسنیو جگړو او نانډریو د ختمولو یوازینۍ لار دا ده چې موقت حکومت جوړ شي او د ملت له منځه زړه سواندي خلک د حکومت واگې په لاس کې واخلي.

دده په وینا، دمگړی د حکومت ډېری لوړپوړي غړي په فساد اخته دي او د هېواد اساسي او مهمو چارو ته یې له سره پام نه دی. هغه که څه هم په ښکاره د چا نوم نه یادوي، خو ټینگار یې کړی چې فساد اوج ته رسېدلی او د ولس اندېښنه له هېچا سره نشته ده. وکیلان دغه راز د جگړې له ښکېلو لورو غواړي چې ژر تر ژره دې جگړې بندې او اوربند دې وکړي، ځکه د دوی په خبره، ولس له روان وضعیت نور ستړی شوی دی.



د ولسي جرگې غړي دغه راز د افغان حکومت له مذاکراتي پلاوي هم غواړي چې د سولې د راتگ لپاره دې نرمښت وښیي. د ولسي جرگې غړو د پرونۍ غونډې په امتیازي ساعت کې د خبرو پر مهال وویل چې مذاکراتي پلاوی به دوحې ته ځي او د دې تمه ده چې دویم پړاو مذاکرات په خپله ټاکلې نېټه (نن) پیل شي.

د ولسي جرگې رییس میر رحمان رحماني وویل چې سوله او د جگړې ختمول د هر افغان هیله ده او باید مذاکراتي پلاوي په خپلو دریځونو کې نرمښت وښیي، څو هېواد یوې دایمي سولې ته ورسېږي. رحماني همدا راز ټینگار کړی چې بین الافغاني خبرې دې ژر تر ژره دلته د تاوتریخوالي د کمېدو او سولې د راتگ سبب شي. ولسي جرگه داسې مهال په خبرو کې د نرمښت غوښتنه کوي چې ټاکل شوې په دې پړاو خبرو کې افغان حکومت له طالبانو د اوربند غوښتنه وکړي، خو د راپورونو له مخې، اوربند د طالبانو د اجنډا په پای کې دی او دوی تر هرڅه وړاندې د حکومت پر جوړښت خبرې کول غواړي.

## لگېت: طالبان دې د سولې خبرو د بریالیتوب لپاره جگړې او هدفي بریدونه پای ته ورسوي

په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو ویاند سوني لگېت وایي، د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې له هوکړې څخه د امریکایي لوري د سرغړونې په اړه د طالبانو ادعا حقیقت نه لري.

دا په داسې حال کې ده چې طالبانو په ننگرهار، هلمند او کندهار کې امریکایي ځواکونه د هوايي بریدونو د ترسره کېدو له امله د دوحې له تړون څخه په سرغړونې تورن کړي، خو په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو ویاند سوني لگېت پر خپله ټویټرپاڼه د طالبانو خبرداري ته په غبرگون کې ویلي، چې د امریکایي سرتېرو دریځ ثابت دی چې په وینا یې، د طالبانو د بریدونو پر مهال به د افغان ځواکونو دفاع کوي.

هغه زیاته کړې، امریکایي لوری یو ځل بیا د ښکېلو اړخونو څخه د تاوتریخوالي د کمولو غوښتنه کوي. په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو ویاند همدارنگه له طالبانو غوښتي چې د سولې خبرو د بریالیتوب لپاره د مدني، فعالانو، خبریالانو او دولتي چارواکو په نښه کول هم بند کړي.

طالبانو په یوې اعلامیې کې امریکایي ځواکونه په ننگرهار، هلمند او کندهار ولایتونو کې په هوايي بریدونو تورن کړي چې په وینا یې، یاد بریدونه په غیر جنگي سیمو کې شوي دي. طالبانو له خپله اړخه د امریکا او طالبانو ترمنځ د دوحې د سولې تړون ته پر خپلې ژمنتیا ټینگار کړی چې په وینا یې، تر یاد تړون وروسته په افغانستان کې د دوی له خوا پر امریکایي سرتېرو برید نه دی شوی. دوی د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو څرگندونو ته هم اشاره کړې چې ویلي وو، په ۲۰۲۰ز کال په افغانستان کې پر امریکایي سرتېرو برید نه دی شوی. طالبانو همدارنگه زیاته کړې چې په دې وروستیو کې د کندهار په ارغنداب ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو له خوا عملیات پیل شوي او ادعا یې کړې چې امریکایي ځواکونه یې هوايي ملاتړ کوي. د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد ویلي، که د امریکایي ځواکونو هوايي بریدونه او په ارغنداب کې پوځي علمیات بند نه شي، طالبان به هم جدي عکس العمل ته مجبور شي چې په وینا یې، مسوولیت به یې امریکایي لوري ته متوجه وي.

بلخوا افغان چارواکي وایي چې طالبانو له تېرو دوو میاشتو راپه دېخوا د کندهار پر ارغنداب ولسوالۍ پراخ بریدونه کړي چې په وینا یې، په زرگونو کورنۍ هم د جگړې له امله بېځایه شوې دي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL
PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

سه شنبه د ۱۳۹۹ د مرغومي ۱٦مه | د ۲۰۲۱ د جنوري پنځمه |٦٥٨مه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۹ | ٥ | ۱۲ | ۱٤ | ۱۷ | ۷ |
| -٤ | -۷ | ۳ | ٤ | ٤ | ۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰٥:۳۲ | لمر ختل ۰۷:۰۰ | ماسپښین ۱۱:٥۹ | مازیګر ۰۳:۱۹ | ماښام ۰٤:٥۷ | ماخوستن ۰٦:۲٦

## نړۍ




## تازه شمېرې: په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر له ۸٥ میلیونو واوښت

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۸٥ میلیونه او ٥۹ زره او ۲۳۹ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ۸٥۲ زره او ۷۷۷ کسان مړه شوي او نږدې ٦۱ میلیونه تنه ترې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۲۱ میلیونه او ۱۱۳ زره او ٥۲۸ ته رسېدلي او ۳٦۰ زره او ۷۸ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۱۰ میلیونه او ۳٤۱ زره او ۲۹۱ میلیونه مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د اووه میلیونه او ۷۳۳ زره او ۷٤٦ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، روسیه د درې میلیونه او ۲٦۰ زره او ۱۳۸ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او فرانسه د دوه میلیونه او ٦٥٥ زره او ۷۲۸ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوي دي. بریتانیا، ترکیه، ایټالیا، هسپانیا او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## راپورونه: په هند کې د یوې ودانۍ د نسکورېدو په پېښه کې ۱۸ کسان مړه شوي



د راپورونو له مخې، په هند کې د مړي سوځولو پر مهال پر راټولو شویو کسانو د چت رالوېدو په پېښه کې ۱۸ تنه مړه شوي دي. هندي چارواکو ویلي چې دا پېښه د اتراپردېش ایالت د مرادنګر د غازي اباد په سیمه کې شوې ده. سیمه ییزې رسنۍ وایي چې د پېښې پر مهال د مړي شاوخوا ۱۰۰ خپلوان راټول وو چې پېښه وشوه. که څه هم د دې پېښې علت نه دی په ډاګه شوی، خو څو ورځې مخکې په دې سیمه کې سخت بارانونه شوي وو. د پولیسو یوې کمېشنرې انیتا مېشرام ویلي چې شاوخوا ٤۰ کسان د مړي سوځولو په بټۍ (هندو سوزان) کې په یوې سرپناه کې راټول شوي وو چې دا پېښه وشوه. د ژغورنې ډلو او پولیسو د پېښې ځای ته ځانونه رسولي چې مړي او زخمیان راوباسي. د چارواکو په وینا، یوشمېر زخمیان روغتون ته انتقال شوي دي. رویټرز خبري اژانس د پولیسو د یو بل چارواکي اجاج راجا له خولې لیکلي، پولیس په دې اړه تحقیق کوي. نوموړي ویلي: «موږ تحقیق کوو چې ژر تر ژره د دغې پېښې عاملین پیدا کړو، هغه که معمار وي، که کارګران وي او یا د ښاروالۍ شورا وي.» په ورته مهال د هند لومړي وزیر نرېندرا مودي په دې پېښې خواشیني ښودلې، د قربانیانو له کورنیو سره یې غمرازي کړې او زخمیانو ته یې دعاجلې روغتیا هیله کړې ده. د اتراپردېش ایالت اعلی وزیر یوګی ادیتیانات هم په دغې پېښې خواشیني ښودلې ده. هغه ویلي چې د قربانیانو له کورنۍ سره به مرستې کوي او همدغه راز پېښه به جدي څېړي.

## مقام های نظامی: امریکا بزرگ ترین پایگاه شان را در ولایت لوگر ترک کرده اند



مقام های نظامی در ولایت لوگر می گویند که نیروهای امریکایی، بزرگ ترین پایگاه شان را در این ولایت نیز ترک کرده اند و اکنون این پایگاه در اختیار نیروهای دولتی است.

شمار آخرین واحد نظامیان امریکایی که در پایگاه «فاب شنک» حضور داشتند، به سه صد تن می رسید که هفته پیش از این پایگاه رفتند. این پایگاه که در سال های اخیر تا هژده هزار سرباز خارجی را هم در خود جا داده بود، افزون بر دیگر امکانات، یک میدان هوایی هم دارد.


بزرگ‌ترین پایگاه نیروهای خارجی در ولایت لوگر با هشت کیلومتر درازی و سه کیلومتر بر، که بین سال‌های دوهزار و شش تا دوهزار و چهارده میلادی، در حدود هژده هزار نظامی را در خود جا داده بود، اکنون چنین می‌نماید.

به گفته مقام‌های نظامی در لوگر، تا پیش از توافق صلح امریکا و طالبان هم، در حدود شش‌صد تن از نیروهای ویژه امریکایی در پایگاه «فاب شنک، برجا بودند؛ اما پس از آن توافق، این شمار به سه‌صد کاهش یافت. سه‌صد سربازی که سرانجام در حدود یک‌هفته پیش از این‌جا رفتند و این پایگاه را به نیروهای امنیتی افغانستان‌سپردند.

خان‌آغا دلاور - فرمانده کندک لمر کوماندو گفت: «در بعضی تعلیم و تربیه همراه ما، کوماندویی، کمک می‌کردند، دیگر وظایفی که محاربوی باشد همراه ما نداشتند، ما مستقلانه وظایف را پیش می‌بردیم و پیش می‌بریم.»


## ژوند

## پر ښه مطالعه د خونې رنګ څومره اغېز لري؟



څنګه کولای شو ژوره او ګټوره مطالعه وکړو؟ ایا د مطالعې د خونې رنګ هم مهم دی؟ په دې برخه کې څېړنو ښودلې ده، چې د مطالعې د خونې لپاره رنګ تر ټولو مهم او کلیدي دی، ځکه د اطاق یا خونې رنګونه ستاسو د مطالعې پر ارزښت مستقیم اغېز لري. تاسې باید لومړی د مطالعې لپاره داسې خونه وټاکئ چې د مطالعې لپاره مناسبه او ارامه وي. د معلوماتو له مخې، رنګونه د مطالعې په خونه کې خورا مهم دي. څېړنو ښودلې ده چې د مطالعې د خونې لپاره کریمي رنګ، روښانه ارغواني رنګ، روښانه شین رنګ، اسماني رنګ، ژېړ او بادامي رنګونه ګټور بلل شوي دي. دا ځکه چې روښانه رنګ د معمارۍ او په ځانګړي ډول ژېړ رنګ د لید له نظره غوره بلل شوي دي. څېړنو ښودلې ده چې دغه ډول رنګونه نه یوازې دا چې د ښې مطالعې لامل کېږي، تر څنګ یې د ماشومانو ذکاوت هم لوړوي. خو داسې هم ویل کېږي چې د مطالعې لپاره تر ټولو غوره رنګ ناخودي یا ژېړ دی.

## شیاومي خپل تر ټولو پیاوړی ځیرک موبایل معرفي کړ



شیاومي کمپنۍ تېره ورځ په چین کې د یوې رسمي غونډې له لارې د مي لړۍ نوی او د دې کمپنۍ تر ټولو پیاوړی ځیرک موبایل شیاومي مي۱۱ معرفي کړ. دغه ځیرک موبایل کې د کوالکام کمپنۍ تر ټولو وروستی او پرمختللی پروسېسر، سنپ ډراګن۸۸۸، کارول شوی دی. شیاومي مي۱۱ کې ٦٫۸۱ انچه ستره کواډ ایچ ډي پلس او ۱٤٤۰*۳۲۰۰ ریزلوشن لرونکې امولېډ ډوله مخپاڼه ورکړل شوې ده. دغه مخپاڼه له ۱۲۰ هرتز ریفرېش ریټ څخه د ملاتړ وړتیا هم لري. دغه ځیرک موبایل به ۸ ګېګابایټ رم او ۲٥٦/۱۲۸ ګېګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا او ۱۲ ګېګابایټ رم او ۲٥٦ ګېګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا لرونکو بڼو کې خرڅلاو ته وړاندې شي. دغه ځیرک موبایل کې د ګوتې نښې او زړه د ضربان سېنسرونه د مخپاڼې لاندې ورکړل شوي دي. شیاومي مي۱۱ شاتنۍ برخه کې درې کامرې لري چې ۱۰۸ مېګاپکسله اصلي، ۱۳ مېګاپکسله الټراوایډ اینګل او ٥ مېګاپکسله مکرو کامرې پکې شاملې دي. مخکینۍ برخه کې ۲۰ مېګاپکسله وړتیا لرونکې سېلفي کامره هم لري.

عزیزي بانک
Azizi Bank
د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه
عزیزي بانک خپلې د ازي پې بڼوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ ستېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي
مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپستور او پلې ستور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.
www.azizibank.af
1515

